ADB

INFOCUS

# چاپیریالي خدمات

## د آسیا پراختیایي بانک د هیوادونو سره د یوي ثابتي چاپیریالي ودي په برخه کې مرسته کوي تر څو د یو اوږد مهال فقر د کمښت او د ژوند د پرمختللي کیفیت څخه ډاډه شي

***ننګونه*** د آسیا پراختیایي بانک څنګه کولای شي په داسي یوه سیمه کې چي د اقلیم بدلون او چټک اقتصادي ودي او خپریدونکي فقر سره لاس او ګریوان دی، یوه ثابته چاپیریالي وده را منځ ته کړي؟

***تګلاره*** د آسیا پراختیایي بانک د ۲۰۰۸-۲۰۲۰ کال اوږد مهال قالب (د ۲۰۲۰ تګلاره) د ثابتي چاپیریالي ودي پر اهمیت بیاځلی تاکید کوي تر څو خپل ماموریت ته ورسیږي او د هیوادونو سره د فقر د ټیټوالي او د هغي د اوسیدونکو د ژوند کچي د ښه والي په برخو کې مرستي وکړي.

***ځواب*** د آسیا پراختیایي بانک د چاپیریالي او طبیعي زیرمو د مدیریت په برخه کې پانګه اچونه پر مخ بیايي، په داسي حال کې چي د ټیټ کاربن ودي او د اقلیم بدلون سره سمون ته پراختیا ورکوي. د آسیا پراختیایي بانک د هیوادونو سره مرسته کوي تر څو چاپیریالي پاملرني د پالیسیو او پانګه اچوني پروګرامونو کې شامل کړي او د هغوی قضایي او سمونکی قالبونو او تطبیق ظرفیتونه غښتلي کړي. دغه اداره د مشترکو چاپیریالي موادو په برخه کې د سیمیزي همغږۍ ملاتړ کوي او د چاپیریالي مدیریت او نوي ثابتو ټکنالوژیو په برخو کې د معلوماتو د انتقال لپاره زمینه چمتو کوي.

***"چاپیریالي ثبات په آسیا او اوقیانوسیه کې د اقتصادي ودي لپاره لازمي شرط دی. موږ نشو کولای چي اوس وده وکړو او وروسته مو هر څه پاک کړو."***

– نسیم جی احمد، د چاپیریال او روغتیا ساتني څانګه، همدارنګه د عمل مشر (چاپیریال)

**د آسیا پراختیایی بانک د ۲۰۲۰ کال تګلاره د آسیا او اوقیانوسیه اړتیاوي پوره کوي**

**استراتیژیک مسیر**
- پراخه اقتصادي وده
- دوامداره محیطي وده
- سیمییزه بشپړونه

**د بدلون پارونکي**
- خصوصي سکټور
- ښه دولتداري
- د جنسیت مساوات
- علمي حل لیاري
- ملګرتیا

د لا ډیرو معلوماتو لپاره:
www.adb.org/Strategy2020/

په تیرو څو لسیزو کې د آسیا چټکه وده سلګونه میلیونه خلک د فقر څخه خلاص کړي دي لیکن دغه لاس ته راوړني او راتلونکي وده به په خطر کې وي ځکه چي د سیمي ډیری پراختیا د ژوند د چاپیریال لپاره مناسبه نه ده.

طبیعي منابع لږ یا له منځه تللي دي، او ښارونه او کلي ډیر ککړ شوي دي. د نړیوال اقلیم بدلون اغیزي د طبیعي سیستمونو پر موثریت او بشپړتیا د خطر سره مخامخ کړي دي. غریب خلک چي پر دغو زیرمو باندې خپل ژوند تیروي، تر ټولو ډیر د مشکلاتو سره مخامخ کیږي.

د آسیا پراختیایي بانک د دي لپاره چي مخ پروده غړو هیوادونو ته د یوي ثابتي ودي د درلودلو په برخه کې مرسته وکړي، یو شمیر فعالیتونه په لاس کې نیولي دي.

## د آسیا پراختیایي بانک په عملیاتونو کې چاپیریال ته پاملرنه

د آسیا پراختیایي بانک د چاپیریالي ثبات پروژي څخه د یوه متن په توګه ملاتړ کوي. یواځې د چاپیریال لپاره پور په ۲۰۱۰ کال کې ۵ بیلیونه ډالرو ته رسیده چي تقریبا د ټول پور ۳۱ سلنه جوړوي. د آسیا پراختیایي بانک د چاپیریالي ثبات پروژو تناسب د ۲۰۰۷-۲۰۰۹ دریو کلنو د اوسط په پرتله چي ۲۹ سلنه کیده، په ۲۰۰۸-۲۰۱۰ کې ۳۷ سلني ته رسیده چي تر ټولو لوړه سلنه وه حتی د ۲۰۱۰-۲۰۱۲ اوسط څخه هم پورته وه چي ۲۵ سلني ته رسیده.

## دایمي زیربنا ته د انتقال پروسي پرمخ بیول

د دي لپاره چي د مخ پروده هیوادونو سره د یو دایمي چاپیریال په طرف انتقال او د فقر د لږولو او ودي په برخه کې مرسته وکړي، د آسیا پراختیایي بانک په یو پاک، اغیزمند او ارتجاعی اقلیم انرژي سیستمونو کې د مختلفو نوښتونو له لیارې، زیربنایي پانګه اچونه او د هغه څخه ملاتړ کوي. همدارنګه د آسیا پراختیایي بانک د ټرانسپورټیشن یو موثر او ثابت سیستم ته د انتقال، پاکو اوبو او روغتیا ساتني ته ډیریدونکي لاسرسی او د ارتجاعی اقلیم او اوسیدونکو ښارونو ته هڅه او ملاتړ کوي. د بیلګې په توګه، د آسیا پراختیایي بانک د دایمي او د انرژۍ له مخي اغیزمند ټرانسپورټیشن سیسټم کې د پانګي اچوني څخه ملاتړ کوي، په داسي حال کې چي د پانګه اچوني تمرکز پر یو پاک، ټیټ کاربن، ارتجاعی اقلیم، محفوظ، د لاسرسي وړ، او د خلکو د وس وړ ټرانسپورټیشن باندې دی. همدارنګه د آسیا پراختیایي بانک د ځمکو څخه د ګټي اخیستني او ښاري پلانګذارۍ په فکر کې دی تر څو خوځښتونه او سفرونه وهڅوي، لیکن د سفر تقاضا به راټیټه شي.

INFOCUS

## د طبیعي زیرمو د مدیریت پرمخ بیونه  او د ایکوسیستم د بشپړتیا ساتنه

د آسیا پراختیایي بانک د یو شمیر فعالیتونو څخه ملاتړ کوي تر څو ملي زیرمو او د ایکوسیستم بشپړتیا غښتلی کړي، او پاملرنه یي ډیره د ثابتي ځمکي او ځنګل پر مدیریت، ساحلي او بحري زیرمو، د بشپړ شوي اوبو زیرمو مدیریت او د زراعت په دوام او د خوراک پر امنیت باندي دی.

د آسیا پراختیایي بانک د سیمیزي همغږۍ نوښت څخه ملاتړ کوي تر څو نړیوال او د سیمی د پولو تر منځ سیستم تنظیم کړي لکه د میکونګ په لویه سیمه او د بورنیو په زړه کي د ژوندانه تنوع دهلیز.

بله بیلګه یي د کورل مثلث نوښت دی چې د آسیا پراختیایي بانک ، د نړیوال چاپیریال د مرکز (GEF) په ملګرتیا او د نورو پراختیایي ملګرو د زیرمو د په کار اچوني د ګډي ملګرتیا په پایله کي د اندونیزیا، مالیزیا، پاپونوګیني، فیلپین، سولومون وچه، او تیمورلیستي سره یوځای کار کوي تر څو د ساحلي او بحري زیرمو د ساتنی، د پالیسۍ د پراختیا، او د کورل مثلث لپاره د تاسیساتي غښتلتیا د پروګرامونو څخه ملاتړ وکړي.

## د اقلیم بدلون په نښه کول: د ټیټ کاربن  ودي او سمون پرمخ بیول

په آسیا او اوقیانوسیه کي د فقر ټیټوالي دوامداره هڅې به شوني نه وي که چیرې د نړۍ د تودوخي د لوړوالي عاملونه کم نشي او د سیمي –په ځانګړي توګه د ښار او کلو آسیب پذیره ډلي لکه غریبان، ښځي، ماشومان او سپین ږیري- سره د اقلیم بدلون د پایلو سره د سمون په برخه کي مرسته ونشي.

د آسیا پراختیایي بانک به د پاکي انرژۍ څخه -د اغیزمندي انرژۍ د پراختیا او د نوي کیدونکي انرژۍ د سامان آلاتو د پراختیا په شمول- د ملاتړ لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکړي دارنګه چې اوسنی ۱ بیلیون ډالر کلنی هدف به پر ۲۰۱۳ کال کي ۲ بیلیونه ډالرو ته ورسوي.

د آسیا پراختیایي بانک د یو لړ بیلابیلو دوه اړخیزو او څو اړخیزو زیرمو او خپله د آسیا پراختیایي بانک د اقلیم بدلون د صندوق په مرسته د اقلیمي خطر مدیریت لپاره مالي مرستي چمتو کوي تر څو د اقلیم سره د سمون پروګرامونو او پروژو ملاتړ وکړي او ارتجاعی اقلیم لپاره ظرفیت لوړوني ته وده ورکړي.

د آسیا پراختیایي بانک د هیوادونو سره مرسته کوي تر څو د حساسو خطرونو مدیریت ته په ملي پراختیایي تګلارو او عملونو کي ځای ورکړي، د زیانمند کیدونکی سکټورونو ارتجاعی اقلیم او د اقلیم ارزونی پروژي پورته یوسي او د اقلیم بدلون ټولنیز اړخونه په نښه کړي.

## د چاپیریالي واکدارۍ هڅونه

د آسیا پراختیایي بانک د مخ پروده هیوادونو سره مرسته کوي تر څو په پروګرامونو او پالیسیو کې چاپیریالي موخو ته ځای ورکړي. دغه اداره د نوموړو هیوادونو سره د پالیسۍ په هکله خبري اتري کوي او د هغوی سره د بنیادي اصلاحاتو په پیل کې مرسته کوي. دغه اداره د هیواد سره د حقوقي، بنیادي او سمونکي برخو په غښتلتیا کې مرسته کوي، د سکټورونو سره مرسته کوي تر څو د دوامداري پراختیا لپاره نوي پالیسۍ ترتیب کړي، او د ملي او محلي چاپیریالي واکدارانو او نورو تاسیساتو ظرفیت لوړوي.

## د ملګرتیا پرمخ بیونه

د آسیا د چاپیریالي ننګونو په وړاندې غبرګون، د سیمي د ټولو مخ پروده غړو هیوادونو بشپړ ښکیلتیا ته اړتیا لري -هر هیواد د خپلو مهارتونو، ګټو او موخو مخلوط دي میدان ته راکیکاږي.

د آسیا پراختیایي بانک د دي لپاره چې خپل ظرفیتونه بشپړ او لازمې پایلې ترلاسه کړي، د یو شمیر چاپیریالي نادولتي ادارو لکه د طبیعت نړیوال صندوق او د طبیعت ساتني نړیواله ټولني، مدني ټولني، نوري پراختیایي اداري د ملګرو ملتونو او GEF په شمول، او د خصوصي سکټور سره یو ځای کار کوي. د آسیا پراختیایي بانک همدارنګه د چاپیریالي تنفیذ او د هوا کیفیت د مدیریت په شمول د ښو فعالیتونو او مهارتونو په ویشلو کې مرسته کوي.

## په پروژو کې د حفاظت ځایونه

د آسیا پرمختیایي بانک چاپیریالي ساتنې ته په پروژو کې ځای ورکوي تر څو ناوړه چاپیریالي اغیزي لږ او یا له منځه یوسي.

د ساتنې پالیسۍ اعلامیه چې د آسیا پراختیایي بانک عملیاتونو د ټولنیز او چاپیریالي ساتنه دنده په غاړه لري، د اجرایوي هیئت د بورډ پواسطه د ۲۰۰۹ کال د جولای په ۲۰مه تصویب شو او د ۲۰۱۰ کال د جنوری په ۲۰مه کاري ډګر ته راووت. د ساتنې پالیسي د اغیزو د ارزوني، پلانګذارۍ او مدیریت لپاره یوي منظمي پروسي ته کار کوي تر څو د پروژو ناوړه اغیزي په نښه کړي.

د ساتنې پالیسۍ اعلامیه د آسیا پراختیایي بانک د چاپیریالي ساتنې پالیسۍ پرنسیپونه او د پور اخیستونکو شرایط د ساتنې د چمتو کولو لپاره په ښکاره کلماتو بیانوي. دغه اعلامیه د چاپیریالي ارزوني پوښښ ته رسمي بڼه ورکوي تر څو د ژوندانه تنوع ساتنه او دایمي طبیعي زیرمو مدیریت، د ککړتیا مخنیوي او ټیټونه، مسلکي او ټولنیز صحت او خوندیتوب، او فزیکي کلتوري منابع پخپل ځان کې ونغاړي. د ساتنې پالیسۍ اعلامیي قطعیت او تصویب په حقیقت کې د یوي هر اړخیزي مشورتي پروسې هسکې درجي ته د رسیدلو ښکارندوی دی.

د ساتنې پالیسۍ اعلامیه همدارنګه د محلي خفګان میکانیزمونو جوړښت، د آسیا پراختیایي بانک د څارنیز فعالیتونو د غښتلتیا او د مشوري او څرګندوالي اړتیاوو د ترتیب له مخې د ساتنه پر پلې کول تاکید کوي. د ساتنه پالیسۍ اعلامیه د مخ پروده هیوادونو د ظرفیت پر پراختیا تاکید کوي او د هیواد د خوندیتوب سیستمونو، د پاریس د اعلامیي او د عمل دپاره د اکرا آجنډا د غښتلي کولو او پلې کول لپاره خپله تیاری ښایي.

**د د آسیا پرمختیایي بانک فوکل پاینټ**
نظیم جی احمد
د سیمیزي او دایمي پراختیا څانګه

www.adb.org/Environment/

**د لا ډیرو معلوماتو لپاره**
د د آسیا پرمختیایي بانک د
مطبوعاتي مرکز
سره اړیکه ونیسی
mediacenter@adb.org
ټیلفون: +63 2 632 5090